# مثالي ناظم

(د مردان ضلعې د ناظم حمایت الله مایار خبرې اترې)

امجد شهزاد



حمایت الله مایار په وړومبي اپریل ۱۹۶۸ء د مردان په مایارو کلي کښې د شاهجهان په کور کښې پیدا شوے دے، ابتدائي تعلیم ئې په خپل کلي کښې کړے دے، بیا ئې څۀ موده اسلام اباد کښې سبق وئیلے دے. وروستو د اسلامیه کالج پېښور طالب علم پاتې شوے دے او بیا ئې د پېښور یونیورسټۍ نه په قانون او سیاسیاتو کښې ماسټر کړے دے.

حمایت الله مایار د کالج نه د پښتون اېس اېف غړے ؤ، یونیورسټۍ کښې اول د پښتون اېس اېف د کېمپس صدر ؤ، ۱۹۹۰ء کښې صوبائي صدر غوره کړے شو، د هغې نه پس دوه کاله مرکزي صدر پاتې شو.

د جنرل ضیاءالحق د مارشل لا خلاف ایم آر ډي تحریک کښې ؤ او د ۱۹۸۳ء د کالج د وړومبي کال طالب علم ؤ چې ګرفتار کړے شو او یوه میاشت قېد ئې تېر کړو. په ۱۹۸۵ء کښې بیا یوه هفته قېد کړے شو، دغسې په ۱۹۸۶ او ۱۹۸۷ء کښې هم مارشلائي حکومت ګرفتار کړو او څۀ موده ئې قېد وساتلو، کله چې ۱۹۸۸ کښې بې نظیر بوټو وزیراعظمه شوه نو په طالب علمانو ئې ټول کېسونه ختم کړل، هغه وخت په مایار ۵۲ کېسونه وو، کله چې افتاب احمد شېرپاؤ د پښتونخوا وزیر اعلي ؤ نو یو ځل بیا مایار ګرفتار کړے شو او پینځۀ میاشتې د پېښور او هري پور په جېلونو کښې وساتلے شو.

حمایت الله مایار د عملي ژوند اغاز د یو وکیل په حېث کړے دے، اولنۍ پرېکټس ئې د لطیف اپریدي سره پېښور کښې کړے دے، بیا ئې مردان کښې وکالت شروع کړو، وکالت کښې قاضي محمد انور خپل استاذ ګڼي، عملي سیاست ئې ۲۰۰۲ء کښې د اې این پي په ټکټ د مردان نه د صوبائي اسمبلۍ په انتخاباتو کښې د برخې اخستو نه شروع کړے دے چې د مخصوص سیاسي لهر د وجې د ایم ایم اې په مقابله کښې پاتې راغے. ۲۰۰۵ء کښې د مردان ضلعي ناظم اعلي غوره کړے شو چې تر اوسه خپل دغه فرائض ترسره کوي.

پښتون: تاسو د سیاست اغاز د پښتون اېس اېف نه کړے دے. په دغه حواله کښې لوستونکیو ته څۀ ووایئ؟

مایار: زمونږ کورنۍ یوه سیاسي کورنۍ ده. مشران مو د باچا خان سره خدائي خدمتګار تحریک کښې وو، وروستو بیا مشران د خان عبدالولي خان سره نېشنل پارټۍ کښې وو، نو د سیاست د زدکړې ابتداء خو مو د کور نه کړې ده، بیا کالج کښې باقاعده په پښتون اېس اېف کښې شامل شوم او د باقاعده سیاست اغاز مې وکړو.

پښتون: تاسو هغه وخت سټوډنټس پالیټکس کښې کوم رول لوبولے دے؟

مایار: د سټوډنټس پالیټکس بنیادي مقصد خو په طالب علمانو کښې د سیاسي شعور پېدا کول او د هغوي سیاسي تربیت کول وي. مونږ به همېشه د طالب علمانو د حقونو دپاره کار کاوۀ، کۀ د کوم طالب علم انفرادي مسئلې وې یا اجتماعي مسئلې، مونږ د هغې د هوارولو دپاره پوره پوره کار کړے دے.

پښتون: د اوسني طالب علمانو د رویو نه عموماً مشران شکایت کوي. په دوي کښې د غېر نصابي مطالعې او سیاسي پوهې هغه رجحان نشته. ستاسو په وخت کښې تاسو په دې حواله څۀ کړي دي او اوس څۀ پکار دي؟

مایار: زمونږ په وخت کښې خو مونږ د طالب علمانو دپاره د سټډي سرکلونو روایت ؤ، په مختلفو موضوعاتو مو به د ډسکشن پروګرامونه کول او بیا هغه وخت چې به څۀ هم بحث مباحثه وه، مونږ به ولي خان بابا پسې لاړو او هغۀ به مونږ په هغه مسئله پوره پوره پوهه کړو. د هغۀ سره هر ملاقات او ناسته یو سټډي سرکل ؤ. د هغوي نه علاوه د بېګم نسیم، افضل خان لالا او افراسیاب خټک نه مونږ ټولو ډېر څۀ زده کړي دي.

پښتون: پښتون اېس اېف د قامي سیاست دپاره یوه نرسري وه تاسو څۀ وایئ؟

مایار: بالکل کۀ تاسو نن نظر واچوئ نو د مرکزي صدر اسفندیار ولي خان نه واخله تر افراسیاب خټک، میا افتخار حسېن تر دې چې د صوبې وزیراعلي د پښتون اېس اېف خلق دي، صوبائي وزیرانو کښې هم اکثر د پښتون اېس اېف نه راوتلي خلق دي.

پښتون: تاسو چې کله د مردان ضلعي ناظم اعلي خوښ کړي شوئ نو تاسو ته دلته په مردان کښې کومې لویې لویې مسئلې پېښې وې؟

مایار: مسئلې خو ډېرې وې، د ټولو ذکر به کوو خو زۀ چې کله ناظم شوم نو د هسپتالونو ډېر بد حال ؤ، جولائي کښې چې به هسپتالونو ته فنډز ملاؤ شو نو ستمبر- اکتوبر پورې به ختم شوے ؤ، بیا د دوایانو او اېکسرې رولونو پورې د هسپتال سره نۀ وو، مونږ به صوبائي حکومت ته منتونه کول چې د دې څیزونو دپاره نور فنډ ورکړي، د هسپتالونو مشینرۍ خرابې شوې وې. مونږ د هسپتالونو د ریونیو دپاره د ټسټونو په فیسونو کښې مناسب ردو بدل وکړو، د ضروري ټسټونو فیس مو ډېر راکم کړو او ځنې فیسونه مو لږ لږ سبوا کړل. د مثال په توګه د هیپټائټس فیس مو ۳۱۵ نه ۷۰روپۍ کړو او الټراساؤنډ مو ۱۸۰ نه ۲۰۰روپۍ کړو. سرکاري هسپتال کښې به په ۲۵ روپۍ اېکسرې کېده خو ۳



میاشتې به رولونه وو، نهٔ میاشتې به خلقو بهر په ۱۵۰ او ۲۰۰ روپۍ ایکسرې کوله. مونږ د ایکسرې فیس د ۲۵ نه ۵۰ روپۍ کړو. اوس ټول کال سرکاري هسپتالونو کښې ایکسرې کېږي، مریضان د بهر د ډېرو پېسو خرچ کېدو نه بچ شي. مردان کښې مونږ د ګردو د مریضانو دپاره ډائیلاسس په شپږ سوه روپۍ کړو، حال دا دے چې پېښور کښې دوه نیم زرو نه واخله څلور زره روپۍ په ډائیلاسس لګي.

**پښتون:** دا خو تاسو د لویو هسپتالونو خبره کوئ، واړهٔ هسپتالونه یا ډسپنسرو کښې تاسو څهٔ وکړل؟

**مایار:** زمونږ چې کوم آر ایچ سي ؤ یا بي ایچ یو، د هغې ډېر بد حال ؤ، مونږ هغې ته ودانۍ جوړې کړې، اسانۍ مو ورکړې، تخت بهائي آر ایچ سي مو تحصیل هېډکوارټر هسپتال کړو، تاسو د رستم او طورو هسپتالونه کتے شئ، د ډاکټرانو د کمي مسئلې هم وې او زنانه ډاکټرانې خو به بېخي نهٔ وې، نن هر هسپتال کښې زنانه ډاکټرانې ناستې دي.

**پښتون:** د تعلیم په مېدان کښې تاسو څهٔ هلې ځلې کړې دي؟

**مایار:** زهٔ چې ناظم شوم، مردان کښې د جینکو صرف یو کالج ؤ، د رش د وجې نه به جینکۍ د سبق نه پاتې شوې. ۲۰۰۶ء کښې د ډېرو کوششونو نه پس ما مردان کښې په هنګامي بنیادونو د جینکو په هاسټل کښې دوېم کالج پرانستو، مونږ دلته ایف جي کالج پرانستو. بیا وروستو مونږ لوند خوړ او تخت بهائي کښې هم د جینکو کالجونه جوړ کړل. کامرس کالج یو ؤ، د دوېم کالج دپاره مونږ د وړومبي کالج نه زیاتي فرنیچر او کمپیوټرې واخستلې، په کرایې مو بلډنګ ونیوو او کالج مو شروع کړو او نن شپږ سوه طالب علمانو منېجمنټ سائنسز کښې داخله اخستې ده.

**پښتون:** اوس خو د خبره سره دلته یونیورسټي او مېډیکل کالج هم جوړ شو، تاسو هم د دې دپاره څهٔ کوشش کړے ؤ، کنه؟

**مایار:** ما د اول نه د دې دپاره کار شروع کړو، کاغذي تیاري مو ټوله وکړه، د مېډیکل کالج او یونیورسټۍ دپاره د دې ځائے د ایم ایم اے ایم پي ایز او ایم این ایز له لاړو، مشرف صېب له لاړو، مشرف صېب وئیل چې تهٔ د کالاباغ ډېم دپاره مردان کښې جلسه وکړه، زهٔ به جلسې ته درشم او د یونیورسټۍ او میډیکل کالج اعلان به وکړم. بلکې مشرف صېب د دې نه علاوه د رنګ روډ، بجلۍ او سوئي ګېس د منصوبو د اعلانولو هم ووئیل خو زما ځواب دغه ؤ چې د مردان د ډوبولو په قیمت دا هر څهٔ ډېر ګران پرېوځي. ما د هغهٔ خبره ونهٔ منله. د هغې نه پس هغهٔ ما پسې خلق راولېږل چې تهٔ مونږ سره (ق) لیګ کښې شامل شه خو دا هم زما دپاره ممکن نهٔ وه خو نن چې زمونږ خپله پارټي په حکومت کښې راغله نو زمونږ دغه خوب رښتیا شو. د یونیورسټۍ او میډیکل کالج سره سره مردان ویسټرن بائي پاس باندې هم کار شروع شو.

پښتون: خبره د روډ راغله نو تاسو په دې حواله د مردان مسئلې څومره هوارې کړې دي، په کومو منصوبو مو کار کړے او څۀ کارونه روان دي؟

مایار: دلته به خبره ډېره اوږده شي، د بخشالي او مردان خراب روډ ؤ، مونږ پرې کار شروع کړے دے. مردان صوابي روډ دپاره ۳۶ کروړه روپۍ منظورې شوې دي، موټروې باندې چې کوم نوے ولي خان انټرچينج جوړ شو دا به د طورو په لار مردان ته يوه بله ښه لار ملاؤ شي. دا به د اکوړې سره هم ولګي دغسې نوښار ته به هم لار جوړه شي او د نوښار خلق به هم د موټروې سره لنک شي او موټروې به استعمالولے شي. د دې نه علاوه د کلو روډونه او فارم ټو مارکيټ روډونه روان دي، مونږ د سړکونو يو جال روان کړے چې اکثر کار مکمل شوے دے.

پښتون: د سپورټس او کلچر په ميدان کښې تاسو څۀ کړي دي؟

مايار: بالکل په دې حواله زمونږ ځانګړې ترجيحات دي. مونږ مردان سپورټس کمپلکس جوړ کړو چې په ۲۲۶ کناله زمکه پروت دے. په هغې کښې د کرکټ، هاکي، فټ بال، والي بال، باسکټ بال، سکواش، ټېنس او نورو لوبو ميدانونه دي. ورسره د ماشومانو دپاره پلې لېنډ دے. د دې نه علاوه، طورو، تخت بهائي، مايارو کښې مو ګراونډونه جوړ کړل اوس هاتيانو کښې زمکه اخلو، زمونږ کوشش دے چې د هر يونين کونسل په سطح يو سپورټس ګراونډ جوړ کړو.

پښتون: مردان خو د ارکيالوجي په حواله هم ډېر څۀ لري.

مايار: او دلته تخت بهائي، سري بهلول، جمال ګړۍ، شهبازګړه او بابوزو کښې پخواني آثار موجود دي. مونږ مردان کښې د ارکيالوجي ميوزيم جوړ کړو، دلته زمونږ تخت بهائي د عالمي قديمو اثارو په لسټ کښې شامله شوې ده. دلته ۲۶۰۰ کاله وړاندې يونيورسټي وه، دلته په دې علاقه کښې هم دومره پخوا درې سوه سکولونه وو چې نن ئې کنډرات موجود دي. مونږ د يونيسکو په مدد د کنډراتو د حفاظت دپاره ډېر کار وکړو. د دې نه علاوه مونږ د موسيقۍ پروګرامونه او ادبي سيمينارونه او مشاعرې په سرکاري توګه کړې دي او کوو ئې.

پښتون: اوس چې د انتهاپسندۍ او بد امنۍ کومه هوا په وطن رالوتې ده د هغې د مخنيوي دپاره تاسو څۀ کړي دي؟

مايار: مونږ د ضلعې په سطح يوه امن جرګه جوړه کړه چې په اولس کښې د انتهاپسندۍ خلاف يو باقاعده تحريک جوړ کړي او تاسو ګورئ چې مردان کښې د نورو علاقو او ضلعو په نسبت ډېر امن و امان دے.

پښتون: د دهشت ګردۍ وړومبۍ نخښه پوليس فورس وي تاسو د مردان پوليس دپاره په دې حواله څۀ کړي دي؟

مايار: دلته وزيراعلي صېب د مردان پوليس دپاره د ۵۰ کروړه روپو منظوري ورکړې ده چې مونږ پرې د دوي دپاره د جديدې وسلې، نور حفاظتي سامان بندوبست وکړو او کوو ئې. نوي الات او ګاډي مو ورته اخستي دي. مونږ د پنځو نوو تانو جوړولو منظوري ورکړه چې پکښې بائزوخرکي

تانه، ساړوشاه تانه، طورو تانه، پارهوتي تانه وغېره شاملې دي. مونږ سره ۱٤ سوه نفري وه، مونږ د نور ۱۵ سوه پوليس بهرتي کړل او لا لګيا يو کوو ئې.

پښتون: د ملاکنډ ډويژن د حاليه فوځي اپرېشن په نتيجه کښې چې کوم پښتانۀ مردان ته راغلل ستاسو څۀ تيارے ؤ، څۀ هلې ځلې وې؟

مايار: په دې حواله خو د سرکار نه زيات کرېډېټ د مردان اولس ته ځي. دلته ۲۳ لکه خلق راغلي وو، کېمپونو کښې صرف ۳۲ زره خلق وو، ۸۱ زره خلق په سکولونو کښې دېره کړې شوي وو چې هغوي له هم زيات امداد خلقو ورکاوۀ او نور يوويشت نيم لکه خلق عام اولس په خپلو کورونو کښې مېلمانۀ کړي وو، دا ټوله مېلمستيا د مردان اولس په خپل سر کړې ده او دا مېلمانۀ ئې په روڼ تندي او پښتنه مينه پاللي دي.

پښتون: د کرکيلې په حواله به هم څۀ تفصيل راکړئ؟

مايار: بالکل مونږ ايګريکلچر کښې هم ډېر کار وکړو، مونږ دلته نوے فارم سروسز سنټر جوړ کړو، مونږ هېډکوارټر لکه طورو، رستم، تخت بهائي، شېرګړ او ګړۍ کښې وړې وړې فارم سنټرې جوړې کړې دي چې زميندارو ته پکښې تخمونه، سره او مشورې ورکول کېږي. د دې نه علاوه مو په کروړونو روپو لښتي پاخۀ کړل چې زميندارو ته اوبۀ خور کښې اساني وي. دغه شان لائيوسټاک کښې مو هم کارونه کړي او کوو ئې او زمونږ موبائل ټيمونه ګرځي چې چرته څاروي بيمار وي باقاعده هم هلته ورله علاج کوي.

پښتون: سوشل سېکټر کښې څومره کار شوے دے؟

مايار: سوشل ويلفئير کښې مونږ په سوونو CCV جوړې کړې، په کروړونو فنډز مو ورته ورکړو، مونږ حجرې او جماعتونه جوړ کړل، دستکارې سنټرونه جوړ کړې شول.

پښتون: تاسو د خپلې ناظمۍ يو اوږد دور د اهم اهم اې په دور کښې تېر کړو، نن ستاسو او زمونږ د خپلې پارټۍ حکومت دے، څومره فرق محسوسوئ؟

مايار: ډېر زيات فرق دے، هغه وخت به ما ته ډېر تکليف ؤ، په خاص توګه اېډمنسټرېټيو مسئلې به ډېرې وې، د هغوي اهم اېن اېز او اهم پي اېز به زمونږ سره ښځې تعاون نۀ کوو او د هغوي په حکومت کښې دې علاقو کښې ښځې ترقياتي کارونه نۀ کېدل. د هغوي ممبرانو ته ما وئيل چې تاسو د لس فټه او شل فټه لارې جوړوئ او خپل بورډونه پرې لګوئ نو راځئ چې مېګا پراجېکټس وکړو خو هغوي ماسره متفق نۀ وو او اوس خو دومره اساني ده چې زۀ په يو دومره وړوکې چټ خبره وليکم او وزيراعلي صاحب ته ئې ولېږم نو د هغه کار منظوري وشي. صوبائي حکومت زمونږ ټول پراجېکټونه منظوروي.

پښتون: اخر کښې د "پښتون" د لوستونکيو دپاره څۀ پېغام؟

مايار: زما خو ټولو پښتنو ته دا پېغام دے چې "پښتون" رساله دې لولي ځکه چې د پښتون قامي سياست او قامي حقونو او غوښتنو ترجمانه رساله ده.